ولی محمد نورزی ۲۰۱۲/۰۹/۲۰

# شمالي ټلواله او کرزی دافغانستان څخه څه شي جوړوي؟؟

د څه مودی راهسي په افغانستان کي د ولسمشر کرزی او د هغه د ملاتړو ډلو مشرانو شمالي ټلواله، وحدت ګوند، دوستم او ځینو نورو لخواه پر افغان مظلوم ملت او جنګ ځپلي بیچاره اولس باندی ډول ډول بی حرمتي، بی تفاوتي، بی پروایی او بی شرمانه نانديري رواني او سرته رسیږی. دغه ډلي چي په ټولو ګټو کي سره شریکي دي او د خپل ځان او ملګرو لپاره هرڅه غواړي. د دوی ملاتړی د دولت په د ننه کي د مافیا هغه بدنامي کړې دی چي د تیری دریش کلنی جګړي په درشل کي په بد نامیو کي را ښکیل دی. دوی د کابل او نورو ولایتونو ښایسته ښارونه ویجاړ کړه او زرګونو بیګناه انسانان یی ترخاورو لاندی کړل. نن دوی د افغانستان ملی حاکمیت، آزادی، استقلال، ځمکني حاکمیت او د قانون د تطبیقولو لړی ته سترګو ابښونه او خنډونه منځ ته راوړیدی.

دغه ډله چه ټول شمیر یی تر سلو زیات نه دی د ګرده (۳۰) دیرش میلیونه افغانستان اولس یی د یوه کوچنې قفس په پنجرو کي داسي بندی کړیدی، چه د خلاصون او وتلو لاره یی ستونځمنه ښکاري. دوی د حکومت امنیتي، دفاعي، پارلمان، قضایی قوی او محلي ارګانونو ټولي چاری او اختیارات په خپله قبضه کي نیولی دی. په دولتي چارو کي د کوچني مدیریت نه نیولی بیا د والي، رئیس، وزیر، سفیر او مشاورینو سلاکارانو د انتخاب او ټاکلو ټول صلاحیتونه یی ځانته خپل کړیدي. برسیره پردي دوی د قاچاق، اخلاقی فساد، غلا، غصب ، انسان وژنو، ترور او نورو کرغیړنو جنایتونو کي دومره ډوب او غرق دي چي د انسانی کرامت، انسانی عاطفي، اسلامیت، وطن پالني او د وروری او دوستي ټول هغه ښکلي احساسات او ښیګني یی تر پښو لاندی کړیدي کوم چي موږ افغانان ټوله هغه د خپل افغانی غیرت، ملی ناموس، ننګ، لوړغرور، فخر، لوړهمت، صداقت او رېښتیني وسیلی او بیلګي بولو.

دغه ما فیایی ډله د پښتون، تاجک، هزاره ، ازبک د ډیرو لږو اقلیتونو څخه جوړه شویده او ټوله په ګډه د خپلو شخصي ګټو برسیره د خپلو ډلو د غړو د ناروا او غیر قانونی کړونو څخه ملاتړ کوي. ددی بدنامي ډلې ټول غړی زموږ اولس ډیر ښه پیژني ولي د دوی د ناروا کړونو د مخنیوی لپآره د مخامخ ویلو توان او قدرت نلری. دوی په مدرنو جنګی وسلو باردی او مقابل لوری ته د مرګ یو ستر ګواښ دي.

دوی خپله په خپلو کي مشوری کوی چي څوک د کومو لوړو چوکیو لپاره په دنده وګماري. دغه مافیایی ډله په ډیری سپین ستر ګي سره خپل نا اهله بی مسلکه همکاران پرته له دینه چي د کاری دندي تجربه، تحصیلي درجه، او د کار اهلیت او لیاقت ولری د واسطو او مشورو له لاری پر لوړو دولتی چوکیو او دندو باندی ټاکي.

محترم ولسمشر کرزی د دغي کرغیړني ډلی ټولی ناروا او غیر قانوني کړونو ته برائت ورکوی او د دوی د هری کوچني سپارښتني وعدی په عملي ډول سره د تکمیل پړاوته رسوی.

یوه ژوندی بیلګه یی لږ موده مخکي د افغانستان د امنیتي چارو چارواکي وزیران عبدالرحیم وردګ د ملی دفاع پخوانی وزیر او بسم الله محمدی د کورنیو چارو پخوانی وزیران دی. دوی د اولسی جرګي د غړو لخواه جرګی ته د پوښتنو او ځوابونو لپآره را وبلل سول، تر څو د خپلو دندو د اجرائاتو څخه د جرګی غړو ته مالومات ورکړی. اولسی جرګی د دوی کړني او وړتیاوی ډیر کمزوري وګڼلی او د ولسی جرګی د غړو لخواه په ډیر اکثریت سره د نه باور رایه په اخیستلو سره د خپلو دندو څخه ګوښه شول.
ولی په دغه بله ورځ محترم کرزی دوی دواړو ته په دنده کی د ښه کار د وړتیا په هکله د امان الله خان غازی نښان او مډال چي د افغانستان تر ټولو لوړ مډال دی د دوی په ځګرو باندی ومښلول. او دوی دواړه یی د هغه وزارت د سر پرست وزیر په توګه وټاکل. دری هفتي لا تیری نه وی چه ښاغلی بسم الله خان د ملی دفاع د کاندید وزیر په توګه د نورو درو وزیرانو سره د اولسمشر لخواه جرګی ته معرفی سول. اولسی جرګي په ډیری سپین سترګي سره همدغه وزیر چي یوه میاشت مخکي یی له دندی څخه د بی کفایتی له امله ګوښه کړی وو، بیرته د نوی دفاع وزیر په توګه قبول کړي. ښاغلی بسم الله چي د حربی پوهنځي او مسلکي پوځی لوړی زده کړی نلری او یواځی په محلی او چیرکي جنګو کي یی برخه اخیستی ده، د څو کالو راهسي کله لوی درستیز، کله وزیر داخله او اوس بیرته د دفاع وزیر سو. داسی مالومیږی چي زموږ دولت ودی چوکی ته بل هیڅوک نلری. او دغه یو بسم الله خان دی چي کله یو وزارت او کله بل وزارت اشغال کړی.


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د پاکستان ړانده راکټونه د یوه کال په موده کي زموږ پرخاوره او خلکو باندی اوری. د دی راکټونو له امله سلګونه افغانان مړه یا ټپیان سول او په زرګونه کورونه ویجاړ یا خراب سول، چي د مالي تاوانونو اندزه یی زموږ دولت ته و میلیونونو ډالرو ته رسیږی. د دی بریدونو د مخنیوی لپاره دولت آرام ناست دی او د ملګرو ملتونو اداری ته یو احتجاجیه لیک و نه لیږل سو. عادی خلکو مظاهری وکړی، چیغی یی ووهلي ولی هیچا ورته غوږ ونه نیوی او بریدو نه په خرپ سره را روان دی.
د حکومت په ادارو کي د رشوت او اداری فساد لړی دومره چټکه ده چي دا لړۍ تر ولایتونو پوری راورسیده او ځنځیری بڼه یی غوره کړیده.
د ځمکو غصب، غلا، مخدره توکي، قاچاق، او د بانکونو چور او چپاول نن یوه عادی خبره ده. رشوت خور، قاتل، قاچاقبر او خاینانو ته چه زور او ډالر ولری جزا نشته، ولی کوچني مامورین او بی واسطی خلک تل د جیل سوریو ته استول کیږي. د کابل بانک د غلا مسئله، د کابل ښار او اطراف د ځمکو غصبګران، د تروریستی حملو او چاودیدنونکو توکو عاملین، د بډو او رشوت اخیستلو چارواکي تر اوسه پوری هیچا ونه نیول او د قانون منګولو ته ونه سپارل سول.

په افغانستان کي ټول ملتونه په ځانګړي ډول سره پښتون ملت ډیر ځورول کیږي، کورونه یی ویجاړیږی ، خلک یی په سره اور کي کباب سول، د تعلیم او تربیه نه لیری پاته کیږي. د جګړو او ځانمرګیو قربانیږی، د ملی اقتصاد او پرمخ تللي تیکنالوژی څخه محرومه دي. د دولت په چوکاټ کی د اداری مامورینو په دندو کی نه جذبیږی او د ژوندانه سطح یی ترټولو ټیټه ده. د داسي ملت لپاره چي د تاریخ په اوږدو کي د نورو ملتونو سره په ګډه د افغانستان د تاریخ جوړونکی دی او خپله پاکه خاوره یی د پردو څخه په میړانه ساتلی ده، ولی نن ډیر د افسوس ځای دی چي دغه افغان ملت د پردو په لمسون د جګړی په اول سنګر کي د بدبختي او ناوړي جګړی په درشل کي قرار لری. او نور بیا د عیش او حیف په خیالونوکي غرق دی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ